# پودکاست پنجم

## فقر و سوء تغذیه

سریزه (داود جنبش)

له ولسمشر محمد اشرف غني سره د پودکاستي خپرونو یوې بلې ګنې ته ستړي مه شئ. امروز بر مسئله فقر در افغانستان، ریشه ها، عوامل و چاره‌های آن؛ مکث می کنیم. ډاکټر صیب خپرونې ته هرکله راشئ.

دکتور غني: بسم الله الرحمن الرحیم. کور مو ودان. زما احترامات [دې] ټولو خوېندو ورونو او ټولو وطندارانو ته [ورسېږي] هر چېرته چې دي.

جنبش: مننه ډېره د هغوی په استازیتوب. په تېرو خپرونو کې موږ د کډوالو [او] کورنیو بې‌ځایه شویو [په] مسئله باندې تقریباً ډېر تم شوو؛ ځای ځای به بیا راځي ځکه چې ځینې نور اړخونه لري خو تاسې په یوه خپرونه کې یوه موضوع یاده کړې وه، غواړم دغه نوې خپرونه له هماغه ځایه پیل کړم. تاسې ویلي وو چې ملت باید، هغه کسان چې راستنېږي او هغه کسان چې کور دننه بې‌ځایه شوي دي، په پراخه مینه او پرانیستې غېږ ورته هرکلی ووایي، زما سوال دلته دا دی چې، پرانیستې غېږ خو سهي ده، د اخلاص غېږ سهي ده، اما که غواړي له مادي پلوه ورسره څه [مرسته] وکړي، دا مسئله له فقر او شتمنی سره تړلې ده. ځکه هرکلی او ناهرکلی بې ډوډۍ، بې دسترخوانه نه کېږي. فکر کوئ د ټولنې اوسنی مالي حالت دومره دی چې سړی دغسې یو هرکلی وویلی شي یا په بل عبارت، دا پوښتنه که داسې وکړم: ستاسې اخیستنه د هیواد د فقر او شتمنی له اوسني حالت نه څه ده؟

دکتور غني: زموږ هیواد هغه هیواد دی نن چې نیمایي ولس بې‌وزلې دي او [لږ تر لږه] یو پر دریېمه برخه د دوو یا دریو ډوډیو [د اخیستو] په ورځ کې امکان نه لري. له بلې خوا نه ځینې مثبت علایم شته چې قیمتونه لږ څه سږ کال ښکته شوي دي او پیسې نسبي ثابتې شوې دي، مګر دا علامه د پرمختګ نه ده، له بده مرغه، ځکه دا حالت لا هم د تشویش وړ ده او دلیل یې دا ده چې څه مو هم چې درلودل په دې څو کالو کې ډېرو اقشارو [هغه] په ځان لګولي دي او اوس هغه حد ته رسېدلي دي چې امکان د دې چې وکړی شي له پخوانیو ذخایرو نه یا زېرمو نه ګټه واخلي او په هغه خپله ګزاره وکړي، هغه [امکان] ډېر کم شوی دی. څلور سکتورونه خاصتاً: د کرنې، خدماتو – چې لوی سکتور و- صنعتي سکتور او دولتي سکتور – چې ډېر کارکوونکي یې له کاره ویستل شوي دي- دا هغه سکتورونه دي چې یوه زېرمه یې درلوده او [هغه] زېرمه یې کمه شوې ده. له بلې خوا، یو ډېر بډای قشر هم په افغانستان کې موجود دی چې په جرمي اقتصاد کې، شبکه‌یي اقتصاد کې او په عرفي اقتصاد کې اوس ډېر لوی لاس لري. نو د افراط او تفریط ملک دی. هغوی چې په [یوه] وار د پیسو خاوندان شوي دي، یا د پخوانیو شبکه‌یي کارونو نه لویې زېرمې په لاس لري، [هغوی] د دې توان لري چې مرسته وکړي. [خبره دا ده] چې دوی کې هغه اراده او زړه سوی،

او اسلامي فرایضو ته قایلېدل چې همېشه په قران شریف کې راغلي دي چې باید یتیم او مسکین او نورو [بېوزله] اقشارو سره مرسته وکړئ. هغه زړه سوی شته، که نشته؟ دا باید په عمل کې ثابته شي.

جنبش: یعنې کولای شي سړی ووایي، چې دا اوسني بدلونونه چې په پام کې ونیسو، دا د افراط او تفریط یا [شتمنۍ] او بېوزلۍ واټن به لا ژور شي [او] لا به ډېر شي.

دکتور غني: له بده مرغه هو! ځکه، که اقتصاد په څلورو برخو ووېشئ چې: یو یې رسمي اقتصاد دی، بل یې عرفي اقتصاد دی، بل یې جرمي اقتصاد دی [او] بل یې شبکه‌یي اقتصاد دی. هر یو یې د دې [خپل] خاص خصوصیات لري او که تاسې غواړئ چې بیا زه توضیحات درکړم، زه به یې درته ووایم، اما هغه خلك چې په جرمي او شبکه‌یي اقتصاد کې اخته دي، ډېرې لویې پانگې یې په لاس درلودې او لا په دې حالت کې دي او دې وضعیت کې دي چې د دوی پانگې ډېرې شي. اما اکثریت د ولس چې په دا دوو نورو اقتصادونو کې دي، د هغوی وضع، بده وضع ده. د تشویش وړ وضع ده او که جدي توجه ورته ونه شي، خدای مه کړه ورځ به [یې] بدتره شي.

جنبش: دغه پوښتنه به وکړم د اقتصاد د ډولونو، ډېره ښه موضوع ده، که پرې ډېر تم شوو اوربېدونکو ته به هم په زړه پورې وي، خو حالی که موضوع فقر و ثروت است، میخواهم با توجه به موج های در حال حرکت انسانی از بیرون و در داخل کشور، پیش بینی حداقل برای مدت کوتاه در مورد اینده افغانستان از نظر اقتصادی، از شما داشته باشم.

دکتور غني: [اینده افغانستان] به این تعلق دارد که ایا اینده را از نگاه دوام وضع موجوده، برای کوتاه‌مدت، وسط‌مدت و درازمدت می بینید یا از نگاه دید تولید ثروت و مبارزه متمرکز با فقر و عدم مساوات؟ اگر وضع موجوده در اینده دوام کند، این باعث افراط و تفریط بیشتر می شود و مشکل جدی [را] برای اکثریت قاطبه ملت ایجاد می کند. اما اگر طرح های بدیل -که ان‌شاءالله تعالی [بالای] منابع ثروت‌های پنهان و قابل استفاده افغانستان سر اش صحبت کرده می توانیم- تمرکز [بالای آن] شود، [در آن صورت] افغانستان مجبور نیست که در حالت فقر و بیچاره‌گی و در حالت از این که به صدقه بین‌المللی وابسته باشد؛ از این حالت بر امده می تواند.

جنبش: استاده په تېره یوه خپرونه کې یوه موضوع وه، را یاده شوه، هغه ځل د خپرونې [وخت] کم و، باید مو پای ته رسولې وی، خو غواړم دلته یې وپوښتم [ځکه] همدې موضوع سره تړاو هم لري، د کورنیو بې‌ځایه شویو مسئلې کې یادونه وشوه چې دوی وځي، له خاصو ولایتونو نه، یو څو ما یاد کړل، یو څو تاسې یاد کړل، چې راځي مختلفو ځایونو ته، دا بې‌ځایه کېدنې په ټولو ولایاتو پورې اړه نه لري او په ځینو کې کېدای شي نه وي، مثلاً زه چې دې وروستیو کې افغانستان ته تللی وم، حداقل په یوه ولایت کونړ کې ما دغه ډول پراخه بې‌ځایه کېدنې ونه لیدلې.

دکتور غني: معلومداره ده چې تعداد فرق لري او په دې پورې تړلې ده چې ډېرتر د جگړې او بې‌ځایه کېدو مراکز کوم [ځایونه] وو. له بلې خوا نه طبیعي حوادث هم ډېره لویه برخه په دې کې لري. [که] د کډوالو د ستنېدو ولایاتو

ته وګورو، ۱۷ ولايتونه نن د دې محور دي يا هغه مرکزي برخه ده چې دوی بېرته [ور]ګرځي هم له ايرانه او هم له پاکستانه. درې ولايتونه چې غزنی، کندوز او هرات دي، دواړو برخو کې مطرح دي. باقي نيمزو، فارياب، تخار، غور، بلخ، بادغيس او فراه، هغه ولايتونه دي چې له ايرانه ورته کډوال بېرته راګرځي او له پاکستان نه [چې ورته را ګرځي] کندهار، ننګرهار، کابل، هلمند، زابل، لغمان او لوګر دي. نو له دې درته لومړی برخه ښکاريږي چې دغو ولايتونو ته خلک بېرته په ستنېدو دي.

جنبش: دا خو کډوال دي، زما پوښتنه د کورنيو بې ځايه شويو په باره کې ده.

دکتور غني: د کورنيو بې ځايه شويو په برخه کې بايد دقيق اسناد وګورو، له بده مرغه دا ټول اسناد موجود نه دي. يو عرض مې په دوامداره توګه دا دی چې [کله] ارقامو ته راځو، اوس تر ډېره حده پورې موږ تړلې يو په بين‌المللي بنسټونو پورې او دا ښه وضعيت نه دی. ځکه، که برقي تذکره په اساسي توګه ټول افغانستان کې عملي شوې وی او په ورځنی توګه برقي تذکرې ټولو کډوالو ته او هم داخلي بې ځايه شويو ته ورکول شوې وی، په دې کې به يو شفافيت وای او په واضح توګه به پوهېدو. مګر يو دليل چې ابهام موجود دی [دا دی] چې ارقام په شفافه توګه نه ټوليږي. لومړی برخه دا ده چې ارقامو [ته] په واقعي توګه راشو نه دا چې هر څوک يې له خيال و خوبه را وباسي. دا سمه طريقه نه ده. بايد ارقام په دقيقه توګه [را]ټول شي چې موږ پوه شوو. نه يوازې دا چې څوک چېرې اوسي؟ چېرې غواړي لاړ شي؟ له کوم ځايه بې ځای شوي دي؟ څو کاله بې ځای شوي دي؟ امکان د تګ يې بېرته څومره دی؟ بلکې امکانات د هر ولايت څه دي؟ څه شرايط دي؟ په څه توګه موږ دوی ته ډوډی رسوو، اوبه رسوو، کالي رسوو [او څنګه ورته] د کورو جوړولو او ژوند شرايط [برابرو]؟ خبره په دې کې ده، د ژوند تګلاره ده يا د تدريجي مرګ لاره ده؟ که د ژوند تګلاره منو او ټول يو بل ته لاس ورکوو، هغه يو لاره ده. زه غواړم چې د ژوند [په] لارې موږ متمرکز ووسو. اما که وضعيت [خپل سر ته] پرېږدو او فکر وکړو چې دا به ځان اصلاح کوي، هغه د تدريجي مرګ لاره ده.

جنبش: در همين رابطه در يکی از برنامه های قبلی باز هم پيش از اينکه به مسايل ديگری مربوط به فقر و ثروت بپردازيم، شما گفتيد که به علت تحولات که رخ داده، شهرها ديگر آن کشش قبلی را برای کتله های وسيع از مردم ندارد، که بيايند و در آنجا برای کاريابی و يا مسايل ديگر رحل اقامت بياندازند و زندگی کنند. اما تجربه شخصی خود من در جريان سفر به افغانستان نشان داد که هنوز هم تراکم غيرمتناسب نفوس بر شانه‌های شهرها سنگينی می کند، ، هنوز هم افرادی زيادی در شهرها زندگی می کنند.

دکتور غني: دو مسئله جناب جنبش صاحب در تضاد با هم نيست. نکته اول اين است که يک هجوم اساسی به [سوی] شهرها صورت گرفت و افغانستان از کشورهای بود که يکی از سريع ترين رشد نفوس شهری خود را تجربه کرد. اما فعلاً شرايط کاريابی در شهرها با مشکل جدی دچار است. و يک علامه از اين را که به صورت واضح می

بینیم، بدبختانه این است که عدم مصونیت غذایی در شهرهای عمده ما قابل ملاحظه است. قبل از زلزله هرات، تنها هرات از شهرهای بود که از نگاه مصونیت غذایی در خطر بلند نبود. اما شهرهای عمده دیگر به شمول پایتخت کابل، قندهار، ننگرهار و کندز وغیره... همه مشکل جدی مصونیت غذایی را داشتند. فعلاً حداقل ۲۲ ولایت افغانستان، به مشکل مصونیت غذایی دچار است که اندازه وخامت از این فرق می کند. وخیم‌ترین حالت بدبختانه در بدخشان و پکتیکا است و ۲۰ ولایت دیگر هم ذکر اش تکرار نشود، اما اسناد را پهلوی از این پودکاست‌ها در ویب سایت گذاشته می توانیم، که وطنداران ما به صورت اساسی ببینند و مورد توجه شان واقع شوند.

جنبش: این نتیجه قطع کمک های جهانی است که من فکر می کنم در قسمت بشری هنوز ادامه دارد، یا تغییر اقلیم و خشک‌سالی‌ها است یا این که، منازعات که به همسایه‌ها پیش امد بر این وضعیت تاثیر ناگوار گذاشت؟

دکتور غنی: یک دلیل نیست، جمع دلایل است. نکته اول، افغانستان در تولید گندم خود کفا نیست و قسمت دوم از این؛ اینست که ۹ ولایت افغانستان که مراکز عمده تولید گندم ابی افغانستان استند: هلمند است، قندوز است، هرات است، بغلان است، فراه است، ننگرهار است، تخار است، بامیان است و ارزگان. و ۹ ولایت دیگر که مراکز عمده تولید للمی استند: هرات است، تخار است، بدخشان است، فاریاب است، بادغیس است، قندوز است، سرپل است، جوزجان است و بغلان است. در یک نگاه متوجه شده می توانید که ولایات شمال‌شرق و شمال افغانستان جمع هرات مراکز عمده تولید للمی است و هر بار که در اقلیم یک تغییر می اید و باران کافی صورت نمی گیرد، ما مجبور به واردات می شویم. از طرف دیگر مقدار تولید ما از گندم ابی در حدود ۲,۶ تُن فی هکتار است. اما؛ تنها ۰,۸۴ تُن فی هکتار از للمی است. و این نکته کلیدی است چون نان خشک موضوع اساسی زندگی ماست و این به واردات تعلق دارد. از این جهت تغییر اقلیم یک [نکته است]. نکته دوم این است که تولیدات زراعتی ما کاهش یافته و سکتور زراعت یک تحرک اساسی و بنیادی را که به کار دارد، هنوز ان تحرک ایجاد نشده و عدم اعتماد سر آینده یکی از دلایل این است.

بخش دوم خدمات است. سکتور خدمات به صورت اساسی صدمه دیده است. دوکاندار که در روز ۴ هزار در شهرهای بزرگ ما داد و ستد داشت امروز شاید ۴۰۰ افغانی در روز داد و ستد داشته باشد. قوه خرید پائین آمده در یک قسمت عمده اقشار؛ و پهلوی از این، چون قوه خرید بسته بود به اقشار که هم با جامعه بین‌المللی کار می کردند، هم با دولت. و مخصوصاً منع زنان از کار، عاید تمام خانواده های را که [روی] عاید دوگانه استوار بودند، به صورت بنیادی پائین آورده و بخش دیگر اش سکتور صنعتی است، سکتور صنعتی تنها ٪۵۰ از فعالیت قبلی خود را بر اساس بررسی های بیرونی گرفته است. این یک قسمت عوامل است.

مسئله دیگر مصرف است. مصرف [روی] پروژه‌های انکشافی به صورت چمشگیر پائین آمده است. در حالیکه مصرف امنیتی به صورت قابل ملاحظه در سال فعلی بالا رفته است. از این جهت، کسانی که سر کار روزانه و روزمزد

اتکا داشتند، آنها با مشکل مواجه استند. کسانی که مسکن نداشتند و خانه کرایه گرفته بودند، این کرایه را به چه رقم پرداخت کنند؟ ابعاد این [به] انواع مختلف استند و همچنین ولایات مختلف، در حالات مختلف استند که به تحلیل اساسی ضرورت دارد. اما نکته که واضح است، وخامت اوضاع است. [این] اقدامات جدی به کار دارد. مخصوصاً از خاطر زمستان، چون بعضی از ولایات ما استند که مشکل جدی رسانیدن کمک در زمستان برای شان وجود دارد و این را به ۳ دسته تقسیم کرده می توانید: در شمال شرق نورستان، بدخشان و کنر استند؛ در شمال و مرکز سرپل، ارزگان، بامیان، بادغیس و دایکندی استند؛ و در جنوب شرق غزنی، زابل و پکتیکا. همه اینها را که با هم جمع کنید واضح است که مسئله فقر از یک طرف، و عاجل تر از ان مسئله مصونیت غذایی [از طرف دیگر] یکی از اولویت های ملی است که توجه سرتاسری به کار دارد.

جنبش: هرومرو نه ده چې یو فکتور دې د غذایي مصونیت په له منځه وړو کې په افغانستان کې مخصوصاً نقش درلودلی وي. په دې مسایلو وروسته هم راځو، مخصوصاً کله چې په کرنه غږېږو. خو یوه پوښتنه مې غوښتله دلته وکړم چې، د افغانانو شمېر هم ډېرېږي، یعنې د وګړو شمېر ډېرېږي. هغه کورنۍ چې لس کاله یا شل کاله مخکې ما لیدلې وې اوس دوه برابره شوې دي. اما د ځینو هیوادو تجربه ښيي چې د نفوس ډېرول بالقوه د فقر معنی نه لري، لکه د چین مثلاً. زه په ۱۹۹۳ کال کې له روسیې نه چین ته لاړم، روسیه د خاورې پراختیا یې ډېره زیاته ده، اما هغه وخت وږې وه، په داسې حال کې چې چین اضافي خواړه درلوده چې روسانو ته یې ورکول. یعنې ښه پلانګذاري، ښه سیاستونه کېدلای شي چې د نفوس له ډېروالي سره سره نفوس موږ هم کړي او غذایي مصونیت یې تأمین کړي.

دکتور غني: خبرې مو څو برخو کې وې، اول: چې بیا یې هم ښکاره کړم. اوسنی وضعیت د مختلفو عللو نتیجه ده او دا هر یو بیله څېړنه غواړي او اندازه یې باید په منطقي توګه او په علمي توګه وټاکل شي چې د هغه په اساس باندې اقدامات وشي. اما فعلاً له دې نه څوک باید انکار ونه کړي چې وضعیت عاجل ده، وخامت خوا ته روان ده او ډېر کېدای شي او خدای ناکرده اکثریت وګړي د افغانستان به په خطر کې وي. دا باید د ټولو په ذهن کې وي. دویمه خبره د نفوس د ډېرېدو ده. چین هم ډېرې بدې ورځې تېرې کړي، ځکه مخکې له دې نه چې مشر یې دنګ شیائوپینګ راغی، میلیونونه انسانان یې مرګ ته لاړل. لکه د ستالین په دوره کې زښت ډېر خلک له قحطۍ مړه شول. اما اساسي خبره دا ده چې روسیه یو واضح اقتصادي تګلارې ته پس د شوروي [اتحاد] له ماتېدو نه په لومړي لسو کالو کې ونه رسېدله او د ژوند سطحه داسې ټېټه شوله یو وارې او دومره خلک ژر مرګ ته ورسېدل چې حد نه لري او د هغه اثار لا هم د روسانو په ذهنیت باندې پاتې دي. او په عین زمان کې، ما چین له نږدې نه کتلی دی، په درېیمه برخه د چین کې، لویو پروژو باندې مې کار کړی. دوی چې ملا وتړله، چین له هغو ملکونو دی چې دېرش کاله یې له ۱۰٪ فیصدو نه ډېرتر په کال کې [اقتصادي] وده درلوده او د چین ټوله خبره په همدې کې وه چې باید خلک په راتلونکي باندې اعتماد ولري، باوري شي او ټول باوري شول. او دا وده په دومداره توګه راغله. هم سیاسي ثبات و او هم اقتصادي ثبات او لویې طرحې هم مطرح شوې. اخري خبره د نفوس ده او دلته هم دوه خبرې دي. [یو دا

چې] اوس پخوانی وضعیت نه دی، که غواړئ اولاد وروزئ، د اولاد روزل گران دي. معلومدار [چې] خدای جل جلاله روزي ورکوي، مگر د انسان [ونډه] هم په کې ده او دلته دوو اسلامي هیوادونو خاص پرمختگ درلودلی. یو بنگله‌دېش و چې دوه ماشومانو باندې یې تمرکز وکړ او په ډېر بریالیتوب باندې او د بنگله‌دېش د علماوو په مرسته یې دا [کار] وکړ او بل ایران ده، اوس ایران له هغې طرحې گرځېدلی، مگر ایران په لسو کالو کې، د نفوس په برخه کې هغه ځه لاس ته راوړل چې امریکې او اروپا کې یې سل کاله ونیول. نو ضرور ده چې هغې برخې [ته] هم توجه وشي، ځکه له بدەمرغه نن ماشومان او مېرمنې په ډېر بد وضعیت کې دي. د روغتیایي له نظره له یوې خوا او له بلې خوا، هغه ماشوم ته چې سمه ډوډۍ نه رسېږي او هغو مېندو ته چې سمه ډوډۍ نه رسېږي، د دې تاثیر د یوې ورځې یا یوه کال نه دی. د قد له نظره دا خلك به په ټیټ قد باندې پاتې شي [او] د وزن له نظره [هم]، دا ټول هغه ابعاد دي چې بیا د ټولنې په روغتیا باندې په عمومي صورت باندې منفي اغېزې لري. ضرور ده چې په دې برخې هم فکر وکړو، ځکه [اوس] هغه پخوانی وضعیت نه دی چې یوازې په کلیو کې خلك لوېدل یا په ښاري ژوند کې حداقل امکانات وو. په دې حالت کې زښته ډېره توجه ماشومانو او مېندو [ته په کار ده]. په عمومي توگه موږ باید د اغلو او ښاغلو (ښځینه او نارینه) تضاد منځ ته را نه وړو. هدف د کورنۍ هوساینه ده او ښځه و نر د یو بل متمم دي. او دا ټول بې د مېرمنو له مدیریته کورنۍ مخ ته نه شي تللی.

جنبش: کله چې افغانستان کې گرځئ [او] مقایسه کوئ یې له تېر وخت سره، اوس د هغه کسانو، کوچنیانو او ځوانانو شمېر بېخي ډېر شوی دی چې ونې یې له منځنۍ اندازې نه ټیټې پاتې او کوچنې پاتې دي.

دکتور غني: بالکل! او زه چې گرځېدم په ډېر افغانستان کې، زما ونه منځنۍ ده، مگر له ما نه دوی ټیټ وو او په لومړیو [کلونو] کې په ۲۰۰۲ میلادې کال کې د ماشومانو سالدانې به مو په یاد وي.

جنبش: دقیقاً؛ بیخې.

دکتور غني: کلیو ته چې زه لاړم سلهاو نفرو سره ما روغبړ کړی یا پوهنتون د کابل کې زما د پخوانیو همکارانو سره، غیر له هلډوکې په دوی کې ځه نه وو پاتې.

جنبش: می رسیم به یک موضوع مهم دیگر در همین رابطه، میخواهم بفهمم، با توجه به همین حالت که است فعلاً عدم مصونیت غذایی و مشکلات دیگر، مسئله تعداد نان آورها و آنهایکه نان خور استند در یک خانواده، بسیار مهم خواهد بود. بخاطر از اینکه اگر این محاسبه ها را نداشته باشیم، سیاست گذاری های اینده هم ممکن نخواهد بود.

دکتور غنی: این یکی از مهم‌ترین موضوعات اقتصادی را شما مطرح کردید. این معادله بسیار ساده اما نهایت دارای اهمیت است. به این معنی، که تعداد افرادی که نان اور استند و تعداد افراد که نان خور استند، این یک ارتباط

مستقیم دارد با این که در قدم اول مصونیت غذایی در این خانواده چقدر است. به طور مثال، اگر [تعداد] نان خور ۱۰ است و نان اور یکی است، می بینید که فشار ۹ نفر است. در این حالت نان که می رسد، اولویت بندی می شود. تمام تحقیقات بین‌المللی و در افغانستان تجارب نشان می دهد که زنان در قدم اول نان اور خود را نان می دهد، در قدم دوم مردها را نان می دهد، در قدم سوم بچه های خود را نان می دهد، در قدم چهارم خود شان و دختران شان نان می خورند. تاثیرات از این را به صورت اساسی دیده می توانید.

جنبش: یعنی این تناسب، ببخشید؛ این تناسب تغییر کرده است؟ تعداد نان اورها کم شده و نان خورها زیاد!؟

دکتور غني: بلی آه! وقتی چهار سکتور عمده در حالت رکود یا در حالت کاهش فوق العاده باشد، میلیون‌ها نفر که به کار روزانه، روزمزد روزانه زندگی خود را [به پیش می برند]، اینها اگر کار شان از شش روز در هفته به یک روز یا دو روز رسیده است، تاثیر این را فوراً دیده می تواند. کسانی که در دوایر دولتی یا دوایر بین‌المللی کار داشتند، باز هم نتیجه اش را به صورت واضح دیده می توانید و به صورت چشمگیر و تمام قصه‌های کی می رسد و ضرب المثل های که می ایند این موضوع را به صورت اساسی [نشان می دهد]. موضوع دیگر نفوس است. چون وقتی که می بینید در داخل یک خانواده ترکیب چیست؟ چند نفر در کدام سن استند که کار کرده می توانند، کار جسمی؟ در نکته اول کار جسمی را می گیریم. چند نفر مسن استند و چند نفر کودک استند؟ این را که با هم جمع کنید فوراً فشار را می بینید که فشار در کجا است؟ و بالعکس، اگر تعداد جوانان که در بازار کار استند و کار پیدا کرده می توانند، قابل ملاحظه باشد در ان حالت وضعیت بهتر می شود. هر چه فشار زیادتر باشد [بالای] نان اور، به همان اندازه موضوع ذخیره قبلی مطرح می شود. در دری یک اصطلاح است که می گوید: «از کمر میخورد». معنی اش این است که از دست اورد گذشته خود، از ذخیره گذشته خود نان می خورد. موضوع که در همه جای باز هم از نگاه علمی ثابت شده است [این است که] این ذخیره به خطر مواجه می شود. فعلاً برداشت علمی از افغانستان این است که ذخیره این که مردم بتوانند با حوادث غیرمترقبه مجادله کنند و از آن برایند، چه یک مریضی است، چه یک مرگ است، چه نکات دیگر استند یا خاصتاً انهایکه عروسی می کنند یا نکات دیگر، به یک باره گی امکانات شان به مصرف می رسند و اینها با شرایط به مراتب دشوارتر مواجه می شوند.

جنبش: تاسې مخکې د متل خبره وکړه، ما ته هغه د پښتو متل را یاد شو چې وایي: «یو یې ګټي، سل یې خټي».

دکتور غني: که څټل کوئ، باید ګټل وي او دا واقعاً بنیادي فلسفه ده. [شلمه پېړۍ کې] د چایانوف په نامه د کورنیو لوی روسي عالم و چې [وروسته] ستالین وواژه، اما دا لومړی سړی و چې دا معاهده یې مطرح کړله او په دې اساس باندې یې یوه تګلاره برابره کړله چې وګورئ کورنۍ په ثابت حالت کې نه پاتې کېږي. که د زمان په طول کې یې وګورئ، په دوام کې یې وګورئ دوی خپل ځای بدلوي. او عوامل د دې معلومېږي چې څه رقم هم عمومي د ټولنې بهیر ورباندې تاثیر کوي او هم دوی څنګه د ټولنې بهیر باندې تاثیر کوي. مخکې مو د چین یادونه وکړله.

چین کې دا کورنۍ اقتصاد [د ټولنې] یوه لوی ترېنه برخه ده او یو لوی عامل د پرمختګ ده، ځکه چې هلته دوی سپماوی کوي. یوه لوی ترېنه برخه د چین په اقتصاد کې د دې کورنیو سپماوی ده. اما فعلاً موږ د سپماوې امکان نه لرو، اکثریت افغانان نور د دې توان نه لري. بل خوا ته یې هم وګورئ د ځمکې، د کور، د جایداد او د نورو شیانو قیمتونه ډېر ټیټ شوي دي. مخکې له دې که چا اخیستي وو په زرهاو ډالرو یو جریب ځمکه [وه] یا څو بیسوې په ښارونو کې، اوس هغه په سلهاو ده. دا ښیي چې په [کوم] شي چې دوی حساب کاوه [چې په] تقاعد کې یا بېکارۍ کې یا په حوادثو کې؛ پر هغه خپل ژوند وچلوي، اوس د هغو امکانات په مراتبو لږ شوي دي.

جنبش: او فقر، یوازې فقر ندی غذایی فقر یا غذایی عدم مصونیت یوازې دا نه دی چې ته په هغه ساعت کې ډوډۍ نه لرې، دا یوه دایره کېږي، یو سرکل کېږي چې کله دې غذا سمه نه وي، صحت دې هم سم نه وي او مسلسل باید ډاکتر ته لاړ شې او دوا واخلې، یوه ذخیره د پیسو یا څه شی که لرې هغه د دې پر ځای چې په ډوډۍ ولګېږي، په درملو لګېږي. د افغانستان روغتیایي سیستم له ځایه هم، یعنې له ډېرو وختونو نه چې زما په یاد دی، سم نه و، خلک له پخوا نه نورو هیوادونو ته تلل چې تداوی وکړي، اوس فکر کوئ دغه حالت ته په پام سره، دا روغتیایي سیستم به دا بار پورته کړی شي؟

دکتور غني: له بده مرغه نه! د کوېډ په دوران کې مجبور شوم، لکه څنګه چې هغه یوه وبا وه، چې ټول روغتیایي سیستم سر تر پایه وڅېړم او یوه واضح طرحه مو ددې لپاره برابره کړې وه چې څنګه منځ کې بنیادي توپیر راوړو چې ونه شوله. دلته څو برخې دي: یو ابتدایي خدمات دي او ابتدایي خدمات هغه لومړی قدم مو چې ایښی و چې غیر دولتي موسسات په دې کې راشي، او دا لومړی برخې څو کالو کې ښه نتیجه ورکړه، پس له هغې نه فساد او انحصار منځ کې بې‌حده ډېر شو. ځینې لا هم هغه موسسات چلېږي او معلوم دي چې څښتنان یې څوک و، دولتي دستګاه کې و او ولس [ترې] ناراضه و. ځکه [کوم] اساسات چې اېښودل شوي وو چې باید دا بېرته دولت سره تړلي وی، [دا کار] ونه شو. دویمه برخه، روغتونو ته ډېره کمه توجه وشوه. روغتونو کې په ټولو روغتونو د افغانستان کې یو بنیادي بحران و. دلته نیمه برخه د مسوولیت په نړیوالو بنسټونو باندې هم ده چې دوی نه غوښتل –اګر چه کوېډ راغی او ټولې نړۍ ته یې ټکان ورکړ- دا برخه چې ورته درېیمه برخه د خدماتو وایي، دې باندې راشي. ترڅنګ یې، خصوصي د روغتیایي [زده‌کړو] پوهنتونه او پوهنځي یوه بلا وه.

جنبش: ولې فکر کوئ بلا وه؟ یعنې ښه کدرونه یې نه درلودل!؟

دکتور غني: امکانات یې نه وو. که غواړئ یوه سمه د طب پوهنځی پرانیزئ؛ کم له کم پنځوس تر سل میلیونه ډالرو پورې په کار دي. دوی راغلي وو، د زور خاوندان وو، اجازه‌نامې یې اخیستې وې او دا د شهادتنامو د ورکولو فابریکې وې، بې له دې چې امکانات وي. که لابراتوار ونه لرئ، که سم استادان ونه لرئ او نور ټول [اړین شیان ونه لرئ،

داسې نه کېږي]. دا نوې نه ده، لکه [څنګه] چې تاسې وویل، ټول ترخه حقایق باید په نظر کې ونیسو، اما اوس له دې علاوه [هم] امکانات کم شوي دي. یوه برخه د «آی سی آر سی» له خوا چلېدل چې هغه ودرول شول.

جنبش: سره صلیب له خوا.

دکتور غني: د سره صلیب له خوا چلېدل چې اوس یې امکان نشته او ورځ په ورځ د هغه بین‌المللي بنسټونو مرستې چې افغانستان سره یې دوامداره مرستې کولې، ولس سره د هغوی خدمات مخ په کمېدو دي. د دې بدیل څه دی؟ هغه ډاکتران چې ځان ته ډاکتر وایي، کوم منسجم امتحان یې تېر کړی چې ټولو ته معلوم شي چې د دوی سویه څومره ده؟ له بلې خوا، له بده مرغه یو ډېر لوی فساد روان و چې دا له لسیزو [راهیسې] دی. د ډاکترانو او درملتونونو یو قرارداد و چې بې‌حده ډېره دوا یې ورکوله. دومره دوا چې افغانستان کې یو مریض ته ورکول کېږي په ډېرو کمو هیوادونو کې [داسې] ده. نتیجه یې دا ده، څوک چې ناروغ شي، ناروغي یې په یوې خبیثه حلقې باندې بدلېږي، لکه چې تاسې وویل. له یوې خوا ډوډۍ نشته، له بلې خوا مصرف کیږي. بله دا ده چې په لومړۍ برخه کې افغانان ډېر صبوره خلك یوو، اول ډاکتر ته نه ځوو، خیال کوو چې دا مریضي به [ختمه شي] بیا اخري مودې ته چې ورسېږي، ټول جایداد خلك خرڅوي چې مور، پلار یا ورور یوسي هندوستان ته، هغه وخت چې ویزې وي، یا اوس یې پاکستان یا ایران ته یوسي، خو بیا [اوبه له ورخه تېرې شوې وي له بده مرغه] مګر نتیجه یې دا ده چې یوې کورنۍ ته یوه لویه مادي صدمه رسېږي په دې باندې. دا انساني عواطف دي چې نه یې شئ بدلولی، اما ضرور دا ده چې د روغتیا یو نظام موجود وي چې وکړی شي خلکو ته د اعتماد زمینه برابره کړي او اوس چې امکانات د ویزې اخیستلو دا نشته، دا لا فشار یې ډېرتر ده.

جنبش: بې ځایه به نه وي که یوه پوښتنه بله هم لنډه وکړم چې روغتونونه جوړ شول په دا تېرو شلو کلونو کې، ځینې یې ډېرې ښاېسته ودانۍ وې، دننه چې به ورغلئ متخصصین په کې حداقل نه وو چې تشخیص وکړي، اوس تاسې یوه خپرونه کې راته وویل چې په پاکستان کې لږ تر لږه ٦٠٠ متخصص افغانان وو یا روزل شوي افغانان وو، ډاکتران؛ که دوی راشي دې حالت کې مثبت بدلون راوستلی شي؟

دکتور غني: هرومرو! څکه افغانان پاکستان [ته] که د افرادو په حیث لاړل، اوس بنسټونه لري. دوی [داسې] ډاکتران لري چې په اوچتې سویې باندې تحصیل کړی، تعلیم یې کړی، معلمین لري او متشبثین لري. یو مثال به د متشبثینو زه تاسې ته وړاندې کړم. دا څپلکې افغانستان واردولې. یو موج کې پاکستان فشار راوړ چې ځینې افغانان له پېښوره وویستل شي، دوی راغلل، د څپلکو فابریکې دوی جوړې کړلې، د څپلکو له وارداتو نه - دا پلاستیکي څپلکې وې- افغانستان ووت، په پښو ودرېده. هلته پانګې هم شته، مګر [لکه څنګه چې] په پخوانۍ یوې مرکې کې وغږېدو د دوی د پانګو مصونیت نه و. ټول معلومات دا ښیي چې له بده‌مرغه دوی ته دا امکانات نه دي برابر شوي چې له خپلې پانګې سره راشي. دوی له فکري پانګې سره راځي او فکري پانګه یې د توجه وړ ده، اما مادي پانګې یې له

بده‌مرغه تر ډېره حده پورې صدمه ليدلې ده. دلته د دې ضرورت دی بيا هم، چې د دوی فکري پانګه په کار واچول شي. مګر خبره پدې کې ده چې آيا د دوی فکري پانګې ته ارزښت نن شته يا بې‌ارزښته ګڼل کېږي؟

جنبش: در پایان این برنامه می خواهم در مورد مسئله مهم دیگر که این هم به فقر و به صحت و مسایل از این قبیل ارتباط می گیرد، مسئله سوی تغذی است، شما اشاره کردید، اما این سوی تغذی تنها یک مریضی نیست که مثلاً آمد و دوا گرفتند و خوب شد، این می تواند مغزها را و جسم‌ها را صدمه بزند. نخست می خواهم بفهمم که این سوی تغذی تنها در اطفال است یا اقشار خاص است یا عام است و دوم این که عواقب از این برای نسل‌های آینده افغانستان چه خواهد بود؟

دکتور غني: باز هم بدبختانه حقایق تلخ است که باید بالایش بحث کنیم و به صورت دقیق مورد توجه قرار بگیرد. حداقل ۳,۲ میلیون طفل بین ٦ ماه و ۵۹ ماه، به سوءتغذیه دچار استند، و در حدود ۸۷۵ هزار از اینها به شدت به مشکل تغذیه دچار استند.

جنبش: نزدیک به یک میلیون؟

دکتور غني: نزدیک به یک میلیون! و همچنین نزدیک به یک میلیون خواهران حامله دار ما با مشکل عظیم سوء تغذیه دچار استند.

جنبش: این باز کودک آنها را هم ....

دکتور غني: کودک از اینها باز به مشکل تولد می شود. هر کودک که مادر اش در حالت سوء تغذیه باشد، با مشکلات عمری صحی تولد می شود. از یک طرف چند نفر از این کودکان بین تولد و پنج سالگی که یکی از زیادترین خطرات است و همچنین سالهای بعد. فقط ذکر کردید و نکته دیگر انکشاف مغزی است. کودک که تغذیه اش درست نشود انکشاف مغزی اش در خطر است. علم طبی این مسئله را واضح قرار می دهد. و نکته دیگر را هم ببینید، مادرهای که یکی بعد از دیگر طفل تولید می کند، هر کودک بعدی چقدر در مشکلات است و هم خطر مرگ مادر به چه اندازه بالا می رود. مقدار مرگ و میر مادران به صورت قابل ملاحظه پایین آمده بود اما حالا باز خطر احیاء اش است. این یکی از مسایل اساسی است که باید مورد توجه قرار گیرد. امید است در صحبت های آینده خاصتاً در موضوع این که افغانستان به چه شکل یا خودکفایی غذایی را تأمین می کند و یا از نگاه واردات و صادارت در همکاری منطقوی با قراردادهای می آید که استفاده اعظمی زمین ما به چه شکل صورت گرفته می تواند. و ایا باید از نگاه تولید گندم که موضوع اساسی حیاتی روزانه ما است، خود ما خودکفا باشیم که امکان اش است یا گندم را به صورت دوامدار از کشور مثل قزاقستان که زیادترین شرایط تولید مساعد را دارد، بیاوریم؛ و در بدل اش

سبزیجات [وغیره] داشته باشیم. این از نکاتی است که در اینده [رویش] امده می توانیم. اما؛ موضوع مصونیت غذایی به صورت عموم و حالا سوء تغذیه از مسایل است که حاد است و بدبختانه در حال حاد شدن است.

جنبش: بسیار تشکر رئیس جمهور محمد اشرف غنی از حضور تان در این برنامه. وقت این برنامه ما که مربوط به مسایل فقر و ثروت در افغانستان بود، به پایان می بریم. البته این بخش‌های متعددی و مختلفی دارد که در اینده روی ان صحبت می کنیم. بسیار تشکر.

دکتور غنی: تشکر از جناب شما.

زنده باد افغانستان، یشه سن افغانستان، تل دې وي افغانستان.